

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حزب الله؛

## د تأسيس موخې او اهداف

ليکوال: دکتور راغب السرجاني

ژباړه او لنډيز: محمد هاشم شاهين

**د نړئوال معروف او مشهور عرب ليکوال په زړه پورې تحليلي او څېړنيزه ليکنه ...**

(c) ketabton.com: The Digital Library




بسم الله الرحمن الرحيم

اسلامي امت په داسي حساسو شرایطو کی راګیر وو او دئ، چي شاید په تاریخ کي به د ارتداد تر فتنې وروسته له داسي ستونزمن حالت سره نه وي مخ شوی، هر نوی تنظیم چي جوړ شي د مسلمانانو ډېره تمه وي چي مم کن دغه خلک د نېکمرغۍ زېری ورسره راوړي، د امت د آزادۍ لپاره مؤثر ثابت شي او ناخوالو ته د پای ټکی کې ښودل شي، خو ورو ورو معلومه شي، چي هغه ګوند هم د نورو زیاترو ګوندونو په څېر د اسلامي امت د وحدت پر خلاف د دښمن یوه نوې دسیسه وي. له عثماني خلافت نه وروسته په سلګونو تنظیمونه جوړ شول خو یو هم د دې جوګه نه شو او یا دې ته پرې نښودل شو چي د اسلامي امت رهبري پر غاړه واخلي، ډېری تنظیمونه خ و یوازې تر خپلي سیمي او قومونو پوري محدود پاته شول، د داعش په نوم چي کومه نوې ډله په ۲۰۰۲م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې رامنځته شوه، په ډېر سرعت سره ئې د سورېې او عراق ځیني ولایات فتح کړل، د ډېرى مسلمانانو هیلې او امیدونه راوپاریدل چې دغه به هغه خلک وي چې د مسلمانانو سویو آوازونو ته لبیک ووایي خو ورو ورو پوه ش ول چې نه! یو ځل بیا مسلمانان دوکه شوي دي، د حزب الله تنظیم هم د یو ډېر ستر حزب(ځواک) په شکل ک ي راڅرګند شو، په پیل کې ئې ظاهرا دښمني د اسلام له ازلي دښمن (اسرائیل) سره اعلان کړه، او تر یو حده بریالي هم ول، عام مسلمانان ډېر ورته خوشاله و د لبنانیانو پر ژبه خو بل نوم نه وو، خو ورو ورو د ایران مغ رضانه اهداف او پټ لاسونه څرګند شول چې د حزب الله له تأسیس نه په لبنان کې د دوی اصل مقصد د سُن یانو ټکول او په سیمه کې د یوه بل شیعي نظام جوړول وو، نه له یهودانو سره دښمني او د مظلومانو حمایت.

د سورېې تر جګړې نه مخکې لا ځیني عام مسلمانان په دې نه وو توانیدلي چې د حزب الله حقیقت درک کړي، ډ ېرو حسن نصرالله د نوموړي تنظیم مشر ته ډېر د قدر په سترګه کتل، تر داسې اندازې چې ډېرویو به ئې ویل چې دی د مسلمانانو خلیفه دئ، خو ځینو بیا له پیله حتی له اسلام نه هم خارج بللی وو.

## خو په حقایقو باندې د پوهېدلو لپاره باید ځانونو ته د څو پوښتنو ځوابونه پیدا کړو ...

**د دې حزب حقیقت څه دئ؟! د چا په لاس جوړ او تأسیس شو او د کومو اهدافو لپاره؟! آیا دا مو دیني وجیبه ده چې له دوی نه دفاع وکړو؟! او که له دوی نه د مسلمانانو د ژغورلو په هڅه کې شو؟!  او که د ځینو مسلمانا نو په څېر خولې وتړو او له هر څه ویلو ډډه وکړو؟!**

## حزب الله څنګه رامنځته شو؟!


دې حزب د لومړي ځل لپاره له لبنان نه سر را اوچت کړ، لبنان یو داسې هیواد دی چې د نړۍ له ټولو هیوادون و نه جلا دئ، په دې لحاظ چې هلته ۱۸-قومونه ژوند کوي، د درجه بندۍ په لحاظ په لبنان کې درې ستر قوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونه آباد دي چي سنيان، شيعه ګان، او عيسائيان دي، خو نوري زياتي ډلي هم شته چي ځانونه مسلمانان بولي خو له اسلامه بالکل خارج دي.

په۱۹۲۰م کي چي کله فرانسويان لبنان ته راغلل دا هڅې ئي پيل کړي چي دلته قومي تعصباتو ته لمن ووهي، د هـ مدې هدف د ترلاسه کولو لپاره ئي د سياسي قدرت ډېرى ونډه عيسائيانو ته ورکړه، خو د لبنان تر آزادۍ ورو سته په ۱۹۴۳م کي د نوي اساسي قانون له مخي، د صدارت څوکۍ عيسائيانو، د لومړي وزارت څوکۍ سنيانو ا و پارلماني رياست په رسمي ډول د شيعه وو حق وګرځېدو، دا قانون تر ۱۹۵۹م پوري اجراء کېده البته تر دې د مه ټول حکومتي مرکزونه د مارونيانو(عيسايانو) په لاسونو کي وو.

د اوسنيو تحليلونو له مخي د لبنان د جمعيت ۲۷% سنيان، ۲۷% شيعه ګان او ۲۱% ماروني عيسايان تشکي لوي، چي تر دوی وروسته دُرزيان د ۵٪ لبناني نفوس تشکيلوي.




## د حزب الله او اسرائيلو د جګړي حقيقت:

د حزب الله جګړه له اسرائيل سره دا خبره ښه واضحه کوي چي شيعه ګان نه د عقيدې، نه د جهاد فی سبيل ا لله، او نه هم د فلسطين د آزادۍ لپاره له يهودانو سره جنګېدل بلکي د دوی مقصد دا وو چي په لبنان کي خپل تر کنټرول لاندي سيمي چا ته پرې نږدي، ځکه اسرائيلو لومړی پر هغو سيمو بريد ترسره کړی وو چي د دوی تر تسلط او نفوذ لاندي وې، خو که همدغه حملې د سنيانو پر سيمه شوي وای دوی به هيڅکله د يهودانو خ لاف نه وو جنګېدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## موسی صدر او د حزب الله ريښې:

### راځو د قصې اصل ته ...

سنیانو اوشیعه ګانو د لبنان د دولتي مراکزو نه لري(هغه مراکز چي د ماروني عیسایانو په واک کي ول او مارو نیان د فرانسې او ملګرو ملتونو له بشپړ حمایت نه هم برخمن ول) له یو بل سره ډېر ښه ژوند کاوه، خو په آخ ر کي دواړه لوري د خپل هویت د څرګندولو لپاره راپورته شول.

دا داسي وخت وو چي سنیان د عربي دولتونو د حاکمانو له پراخ حمایت نه برخمن شوي ول، مشران ئې درلود ل، خو بل طرف ته په ۱۹۵۹م کي د لومړي ځل لپاره یو با نفوذه مشر چي "موسی صدر" نومېده د لبنان پر ځ مکه قدم کېښود، شیعه هم سمدستي ورپسې روان شول.

موسی صدر په ۱۹۲۸م کي د ایران په قُم ښار کي زېږېدلی وو، په همغه ښار کي ئې د شیعي مذهب زدکړې ترسر ه کړې، خو په ۱۹۵۹م کي لبنان ته راغی او هملته هستوګن شو.

## موسی صدر د دوو اهدافو لپاره لبنان ته راغی:

لومړی هدف: دی د یوه شیعي سټېټ یا شیعي نظام د جوړولو لپاره لبنان ته راغلی وو، د ده هدف وو چي د شی عه مذهب د ټولو خرافاتو باوجود باید د لبنان اساسي قانون جعفري فقه وګرځول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې باید خبر شو چې د لبنان شیعه ګان هسې په نوم شیعه ول دوی حتی د خپل مذهب نه هم خبر نه ول.

دوهم هدف: چې موسی صدر ئې لبنان ته راوستی دا وو چې لبناني شیعه ډېر شتمن ول، دوی د خپلې شتمنۍ ۲۰٪ یا خُمس مراجعو ته ورکول؛ یعني هر قسم مراجع چې د دوی به خوښ ول، او په هغه خُمس کې به ئې ځان ته د هر قسم تصرف جواز ورکاوه، صدر همدغې ګټې ته غلی وو.

## د شیعي نظام جوړولو لپاره برنامه ریزي:

موسی صدر د شیعی حکومت د جوړولو لپاره لبنان ته رالیږل شوی وو، دی ځکه د دې هدف لپاره انتخاب شو ی وو چې ایراني الاصله وو، د ایران اهدافو ته ژمن وو او د خیانت وېره ئې نه وه. او بل دا چې د نورو اخندانو خ لاف ده له فارسي سره سره په عربي هم ښه خبرې کولای شوې، د ده د انتخاب یو بل لامل دا هم وو چې ده د خ میني(د ایراني انقلاب مشر چې فرانسویانو تر انقلاب وروسته په خپله شخصي طیاره کې ایران ته راوستو، د د ه په کتابونو کې د مؤمنانو مور حضرت عائشۀ صدیقه رض ته ډېر سپکاوی شوی دئ.ژباړن)سره ډېر ښه روا بط درلودل، د دې ټولو باوجود د خمیني زوی(احمد) د موسی صدر د خور د لور سره واده کړی وو، موسی ص در بیا د خمیني له لمسۍ سره واده کړی وو، او بل لور ته مصطفی خمیني د موسی صدر له نږدې ملګرو او دوس تانو څخه وو.

موسی صدر سمدستي د لبنان هغه سیمې ته کوچ وکړ چې اکثریت ئې د شیعه ګانو وو، ده خپل کارونه پیل کړل ، پرته له دې چې مذهبي دعوت پیل کړي، په پیل کې ئې خدماتي کارونه پیل کړل، شفاخانې، له غریبانو سره م رستې و شیعي مدارس ئې تأسیس کړل، د لبنان فوځ او دولت ډېر کمزوري وو ځکه ئې له ده نه د خدماتو د مر جع پوښتنه نه شوه کولای، موسی صدر داسي شخص وو چې له هر چا سره ئې نیک روابط ساتل، تر څو خپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ل اصل هدف ته ورسېږي، دی په دې ښه پوهيده چې د ده اصل رقيبان سنيان دي، له عيسايانو سره دی څه نا څه جوړ جاړی کولای شي خو له سنيانو سره کله هم نه!! دا خبره د يادونی وړ ده چې هغه وخت لبناني سنيا ن دين ته بالکل نه ول متوجه، له فکري لحاظه ځيني سوسياليستان شوي ول او ځيني بيا سيکولر شوي وو.

موسی صدر ځان عيسايانو ته ډېر نږدې کړ، لکه څنګه چې دا واضحه خبره ده چې شيعيزم يوازي د اسلام له ا وصولو سره د ټکر لپاره جوړ شوی، د دوی اصل هدف د اسلام د ريښتني قصې ردول دي، د اصحابو رض ردو ل، د اسلامی نظام د عملی ژوند نه کرکه پيدا کول، خلاصه دوی د سني مذهب ټول تاريخ ردوي، د دوی په وينا تر اوسه اسلامي حکومت نه دی قايم شوی. العياذ بالله

موسی صدر هغه وخت د "شارل حلو" د لبنان عيسايي جمهور رييس ملاقات ته ورغی، خو د مسلمانانو د اتح اد په پلمه د سنيانو رهبرانو ته نه ولاړو او نه ئې څه اهميت ورکړ، شارل حلو پوه شو چې چې موسی صدر له سنيانو نه کرکه لري ځکه ئې ده ته غېږه پرانيستله، حتی په ۱۹۶۷م کې ئې د موسی صدر د حمايت لپاره له "م جلس اعلای اسلامي شيعه" سره توافق وکړ، تر څو دوی د لبناني شيعه وو نماينده ګان واوسي، حتی شارل ح لو د اساسي قانون د مادې پر خلاف دوی ته اجازه ورکړه چې د دوی د تنظيم ستر مراجع دي په ايران او عراق کې وي.

دا تنظيم په کال ۱۹۶۹م کې تاسيس شو او صدر يې مشري پر غاړه واخيستله او يو کال وروسته نوموړی تنظ يم د حکومت له لوری په رسميت وپيژندل شو او لس ميليونه ډالر ئې د بوديجې لپاره ورته تصويب کړل.

موسی صدر امريکايان هم پرې نښودل، هغوی ته ئې وويل چې دی په شيعه ځوانانو کې د سوسياليزم مخه نی سي، له امريکايانو سره د ده رابطه تر داسې ځايه ورسېدله چې د خميني ځينی پلويانو پر ده انتقاد وکړ، ځکه خميني د امريکا سر سرخت مخالف وو، امريکا بيا د ايران د شړل شوي شاه رضا شاه پهلوي پلويان ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو يو دم د لبنان په جنوب کې نوي تغييرات رامنځته شول چې دا تغييرات نو د موسی صدر د غوښتنو خلاف
وو، په ۱۹۷۰م کې فلسطيني مهاجرين په اُردن کې د قتل عام ښکار شول، چې نوموړې پيښه د تور دسمبر په ن
وم شهرت لري، خو د الفتح د تنظيم په رهبرۍ فلسطيني مهاجرين د لبنان جنوب ته منتقل شول، او دا د هغه
څه خلاف ول چې شيعه وو غوښتل، ځکه فلسطينيان سنيان ول، همدا مهاجرين په لبنان کې د شيعي حکوم
ت د تأسيس په وړاندې خنډ جوړېدلای شول، که څه هم د الفتح تنظيم سوسياليستی او سيکولر حزب وو او
له اسلامي تعليماتو سره ئې هيڅ اړيکه نه وه.

موسی صدر د الفتح له تنظيم سره هغه وخت ځکه روابط خراب نه کړل چې ده غوښتل حزب الفتح د شيعه
وو ځوانانو ته نظامي زدکړې ورکړي، تر څو ورسته دی وکولای شي چې يو نظامي شيعي تنظيم جوړ کړي، د ال
فتح تنظيم هم د کمونستانو تر څنګ د يو بل حامی په لټه کې وو، نو ځکه هم د دوی تر منځ څه مشکل واقع
ته نه شو.

**حافظ الاسد د سورېې "ديکتاتور" جمهور رييس:**

په ۱۹۷۱م کې جنرال حافظ الأسد په سوريه کې واک ته ورسېدی، حافظ الاسد د نصيري علويانو له طائفې ن
ه وو، دا ډله که څه هم د سياسی سرشمېرنې له لحاظه مسلمانه ګڼل کيږي، خو د عقايدو له نظره ډېر زيات
خرافات او شرکيات کوي، دوی حضرت علی رضی الله عنه د الوهيت مقام ته رسوي، العياذ بالله، نو ځکه ئې
مسلمانان نه شو بللای.

خو د دغه حقيقت باوجود موسی صدر فورا د حافظ الاسد په اړه فتوی جاري کړه، چې اسد ريښتينی مسلما
ن دئ، ده په خپله نوې فتوی کی مُشرک علويان شيعه وبلل! تر دې مخکې شيعي اخندانو پر علويانو د کفر ف
توی ورکړې وه، د ده همدغه باطله فتوی د دې سبب شوه چې حافظ الاسد له ده سره روابط فعال کړي، هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې موسی صدر د ایراني اخندي دولت او اسد تر منځ رابطه جوړه کړه، حافظ الاسد مخکي د اخندانو پر خل اف د رضا شاه پهلوی پلوي کوله خو وروسته ئې ځان د اخندانو توري چپنی ته وغورځاوه.

موسی صدر ته یوازی د شیعې نظام(سټېټ) جوړول مهم ول، هغه د کفر او اسلام غم نه کاوه، هر بانفوذه لاد یني به ئې شیعه باله، له خمیني سره سره ئې د مسیحیانو، امریکایانو، سوري علویانو او حتی د الفتح له (تش په نوم) سني سیکولر تنظیم سره چي د سنیانو له ډلی نه بلل کېدی لاس یو کړ.

په جولای ۱۹۷۵م کی ئې یوه نظامي ځانګه د "أفواج المقاومة اللبنانیه" په نوم جوړه کړه، چي مختصرا "امل" بلل کېده، رهبري ئې هم ده په غاړه واخیسته.

خو وخت لا نه وو تېر شوی چي ده فلسطینیانو ته شا ور وګرځوله، په ډېر شدت سره ئې د لبنان له جنوب نه د سني فلسطینانو وتل وغوښتل، ډېر ژر به ووینئ چي ده څرنګه له ۱۹۸۵م نه نیولې بیا تر ۱۹۸۸م پوري د فل سطینیانو خلاف ظلم او تشدد پیل کړ.

تر دې وروسته لبنان د پردیو د لاسوهنو په مټ په ۱۹۷۵م کی په داخلي جګړو کي راښکېل شو، چي د وجوهات و د څېړلو لپاره ئې مستقل بحث ته اړتیا شته.

## موسی صدر او ډېر دښمنان يې، بالاخره موسی صدر تری تم(ورک) شو:

د موسی صدر په توسط د "مجلس اعلای شیعه" او "حزب امل" افواج المقاومة اللبنانیة" تر جوړېدلو وروس ته هغه په یو داسې ځواک بدل شوی وو چی نه باید په کمه سترګه ورته کتل شوي وای، نو ځکه ئې هم ډېری

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک په اړه حساس شول. هغه هیڅکله خپل واک نه مخفي کاوه بلکي تل به ئې په زغرده ویل که مې غوښتنې و نه منل شي، نو له خپلو ملګرو سره به د مالدارو خلکو پر مانیو هجوم ور وړم. هغه کله کله د خمیني پر ځینو کارونو انتقاد پیل کړ ځکه ده د خپل مقصد د حصول په لار کي هر څه جایز بلل.

کله کله به ئې پرته له دې چي سیاست ئې د ایران له لوري سانسور شي، له نورو جهاني هیوادونو سره اړیکي پ راخولې، خمیني یو ځل ځکه ډېر ورته په غصه شو چي دی ایران ته ولاړو او مخامخ ئې د "محمد رضا شاه" س ره ولیدل تر څو هغه دولس اخندان چي د رضا شاه قاضیانو ئې د اعدام حکم صادر کړی وو راخلاص کړي.

دا کار ظاهراً د خمیني له تګلارې خلاف وو، خو وروسته یو دم د موسی صدر او سورېې تر منځ اړیکې ترینګلې شوې چي دلیل ئې دا وو چي سوریه په ۱۹۷۷م کال کي اسرائیلو ته د سادات له سفر وروسته، د همسایه ګانو او امریکا تر سخت فشار لاندې راغله، سورېې تمه درلوده چي لبنان به ئې زورور حمایت وکړي، ځکه د سوري ې فوځ په لبنان کی موجود وو.

حافظ الاسد د موسی صدر نه غوښتل چي د سورېې پرته نه باید له بل چا سره تړون ولري، خو صدر بیا پر ا سد ځکه بې باوره وو چي حالات د اسد په خلاف ډېر حساس ول، نو ځکه ئې د سورېې د ملګریتوب خلاف له نورو عربي هیوادونو سره اړیکي پراخي کړلې، په همدې وخت کي موسی صدر "کویت" او "الجزائر" ته سفرونه وکړل او بیا په اګست ۱۹۷۸م کي "لیبیا" ته ولاړو، خو هلته یو عجیب کار وشو، لیبیا اعلان وکړ، چي په ۲۵اګ ست ۱۹۷۸م کي موسی صدر له لیبیا نه ووتی، خو له هغه وروسته موسی صدر د نړۍ په هیڅ ګوټ کی ونه لید ل شو !!!

قصه واقعاً هم ډېره حیرانوونکې وه، موسی صدر ماشوم نه وو چي له هوایي میدان نه دي ورک شي، عام انسا ن هم نه وو چي کوم هیواد ته ولاړ شي او د هغه هیواد واکمنان دي ترې بې خبره وي، خو دا ښکاره خبره ده چي بومړی نیول شوی او بیا وژل شوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسی صدر ډېر زيات دښمنان درلودل چې د ده د ترور ارمان ئې درلودو، د دوی په رأس کې ايراني انقلابي اخن دان ول، ځکه په آخر کې موسی صدر دوی ته خنډ جوړولای شو، او يا بالاخره دوی د صدر له بغاوت نه وېرېد ل، هغه کسان ئې هم دښمنان ول چې نه ئې غوښتل صدر له خميني سره په قدرت او واک کې شريک شي، ځ که صدر د شيعه وو لپاره تر خميني کم نه وو، په آخر کې له سوريې نه مخالفت هم کېدلای شي ده ته ضرر ر سولی وي خو لېبيا ځکه نه شو ملامتولی چې به انقلابينو سره ئې خواخوږي درلوده، په لبنان کې هم د ده زيات دښمنان ول، خو د صدر ورکېدل د هټلر د مرګ په څېر يوه پېچلې معما شوه، هيڅ سياستمدار ئې په اړه قط عي فيصلې ته ونه رسيدو.

يو کال وروسته به ايراني انقلاب بريالی کېږي، رضا شاه به له واکه لري کيږي، څلور کلونه وروسته به اسرائيلي پوځ د لبنان جنوبي سيمه اشغالوي، د دې هر څه په مقابل کې بايد حزب الله ثابت پاته شي، تر څو د موسی صدر ايرانئ پروژه ناکامه نه شي، خو دا پروژه څرنګه بريالئ شوه؟! د اَمل اردو په کوم سرنوشت اخته شوه؟! د شيعه وو پالېسي د لبنان په جنوب کې د فلسطيني مهاجرينو په اړه څه وه؟! د حسن نصر الله ستوری څنګه وځلېدو؟! حسن نصر په حقيقت کې څوک دئ؟! فکار او عقايد ئې څه دي؟!

دا بېل بحث دئ، مخته به روښانه شي، ان شاء الله

## د ايران په اړه د عباس موسوي او حسن نصر الله ستراتېژی:

په دغه حساسو او سختو شرائطو کې دوه کسان ول چې په نجف کې ئې د شيعه وو عقائد او علوم لوستي وو، دوی لبنان ته راوګرځېدل، دا دوه نفره چې د موسی صدر د مذهبي اصولو په ساتلو کې تر ټولو مخکښ ول، ع باس موسوي او حسن نصر الله وو، دوی دواړه په ډېر تلوار سره په حزب الله کې شامل شوه او د امل په نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library

ي ځانګه کې ئې ډېر حساس پوستونه په برخه شول، په داسې حال کې چې هغه وخت د حسن نصر الله عمر ب
س ۱۸ اتلس کاله وو، نو ښکاره ده چې دا هر څه د ايران په توسط ترسره کېدل نو ويلای شو چې د موسی صد
ر ترور هم د ايران توطئه وه.

په ۱۹۷۹م کې د ايران اخندي انقلاب بريالی شو، رضا شاه له ايرانه کوچ وکړ، خميني د فرانسويانو په طياره ک
ې له پاريس نه تهران ته راوستل شو، او د ايران د واک پر ګدی کښېنول شو، ده خپل ټول رقيبان له ځانه لر
ې کړل، ټول هغه خلک چې د ده د انقلاب د بريا لپاره ئې هڅې کړې وې له صحنې نه په يو او بل نوم ګوښه کړل
شول چې په هغوی کې ايراني سنيان هم شامل ول، ده له سنيانو سره د هغوی د حقوقو وعده کړې وه، خو پر
ټول واک ئې قبضه وکړه، ايرانيانو ګومان کاوه چې د انقلاب تر بريا وروسته به دی قُم ته ولاړ شي او واک به بل
منتخب کس ته پرېږدي، خو د څوکۍ شوق او خوند خميني ته د قُم د تګ اجازه ورنه کړه بلکې په تهران کې پاته
شو.

کوم وخت چې ايران آرام شو، خميني د عراق او لبنان په لور متوجه شو، ځکه دا دواړه سيمې يوازيني ځايونه
ول چې هلته له ايران پرته تر ټولو زيات شيعه ګان مېشت ول، خو په عراق کې د ده لپاره اوضاع ډېره خطرناک
ه او بحراني وه، صدام حسين هر څه په اوسپنيز مُټ کې مضبوط نيولي وو او خميني ۱۴کاله هلته پاته شوی
هم وو، هغه ته د صدام قوت او غصه ښه معلومه وه، خو د ۱۴کلونو تېرولو وروسته خميني مجبور شوی وو
چې پاريس ته کډه په شا کړي، دی ډېر ښه پوهېده چې شيعي ډلې هيڅکله نه شي کولای د صدام په موجوديت
کې نظام ته تغيير ورکړي، په همدې دليل دی عراق ته د اته کلنې جګړې لپاره ننوت، خو د خرم شهر له بيا نيو
لو وروسته هم د جګړې ختمولو ته تيار نه شو او د ۵۹۸ فرمان يا تړون تر لاسليک وروسته هم د يو کال لپاره
وجنګېدی.

خو په لبنان کې بيا يوازې يوې ډلې د ده پلان پر مخ بيولی شو، هلته شيعه ګان آزاد ول. د ده لپاره واحد کار دا و
و چې هلته د ايران ګټو ته يو وفادار شخص ولېږدوي، خميني د دې عملياتو لپاره همدا خپل دوه مريدان نصرا
لله او موسوي ولېږل، خو د امل مشري لا هم د "نبيه بري" سيکولر په لاس کې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالاخره په ۱۹۸۱م کی څلورم کنفرانس په دې اړه جوړ شو تر څو دوی خپلمنځي اختلافات ختم کړي، چي په ه مدې خاطر ئې "نبیه بري" د امل پر مشرۍ او عباس موسوي ئې د ده معاون وټاکه، د لبنان په جنوب کې دا د ا یران لپاره ډېره ستره بریا او لاسته راوړنه وه.

## د لبنان پر جنوبي سیمه د صهیونیستانو تېری او د شیعي تنظیمونو دریځ:

د جون د میاشتي په ۶ تاریخ د ۱۹۸۲م کال داسي څه پيښه وشوه چي هیچا ئې هیله او انتظار نه درلودو، په نا څاپي شکل سره اسرائیلو د لبنان مکمله جنوبي سیمه اشغال کړه او حتی تر بیروته پوري ورسېدل، د صهیو نیستانو ظاهراً دا هدف وو چي یاسر عرفات، الفتح تنظیم او د نورو مسلحو ګوندونو افراد له لبنان نه وباس ي، اسرائیلیانو او لبناني نصاراو په ګډه د فلسطینیانو د ویستلو لپاره هلي ځلي پیل کړې، په دې جګړه کې ډېر فلسطینیان د دوی په لاسونو ووژل شول، چي مهمه پېښه ئې د صبرا او شاتیلا وه چي په دې پېښه کې درې زره فلسطینیان قتل عام شول او صهیونیستان او مارونیان په دې وتوانېدل چي فلسطینیان د بېروت او جنوبي ل بنان نه وباسي.

دا پېښه د لبناني شیعه وو په ګټه وه، دوی له ډېري مودې نه د فلسطیني مهاجرینو د وتلو په هڅه کې وو، تر څ و جنوبي لبنان د دوی د آزادۍ لپاره خالي وي او وروسته له همدې سیمي نه د شیعي دولت د جوړولو غږ اوچت کړي، خو صهیونیستانو د فلسطینیانو د ویستلو وروسته خپلې قرارګاوې خوشې نه کړې، بلکي د لبنان اشغال ته ئې دوام ورکړ. همدا دلیل شو چي شیعه تنظیم "حزب الله" د اسرائیلو پر خلاف وسله وال مقاومت پیل کړ ي، نو ځکه ویلای شو چې د دوی هدف اسلام نه بلکي د یوه شیعي دولت جوړول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د حسن نصر الله د ستوري ځلېدل:**

ډېرى مسلمانان پرته له دې چې تحقيق وکړي، په دغسې سترو مسائلو کې له انساني عاطفې او ترحم نه کار اخ لي او يو ستر جرم/جنايت ته د اشتباه او تېروتني په سترګه ګوري، هيڅ د حقيقت په روښانولو باندي ځان نه ستړی کوي، چي د دې کار پايله د ده خپله تېروتنه او اشتباه وي او په پای کي چي کله په مصيبت اخته شي، بيا له پښيمانۍ پرته بل څه لاس ته نه ورځي.

موسی صدر چي د قم او نجف نه لبنان ته را ستون شو نو وروسته ئې ټول شيعه ګان په يو ځای را غونډ کړل ، داسي منسجمه ټولنه ئې ترې جوړه کړه چي په راتلونکي وخت کي د يو مستقل حکومت جوړولو وړتيا ولري، صدر د مجلس اعلای شيعيان له جوړولو وروسته له نظامي اړخ نه غافل نه شو بلکي د "امل" فوځي څانګه ئ ې هم تأسيس کړه، له مسيحيانو سره ئې قوي روابط وپالل، خو دی د واک زياتېدلو وروسته له خپلو حاميان و او بادارانو سره په ټکر کي راغی، ځکه ده ته يوازي د هغوی حمايت کافي نه و، خو اخندانو بيا د ده آزادي نه غوښتله. د ده او اسد اختلاف هم يو د دغو دلايلو نه وو.

لبناني شيعه وو تر ده وروسته د ده د خلا ډکولو لپاره "عبدالامير قبلان" چي د ده په ژوند کي د نوموړي تنظيم نائب وو د ياد تنظيم مشر وټاکه، په داسي حال کي چي د ده ځای لا خالي پاته وو، وروسته دوی د لبنان يوه "ش يعه عالم" محمد حسين نصرالله ته ورسېدل، دا داسي وخت و چي د دوی نظامي څانګه په مکمله توګه بحران ي شوې وه، د دې ډلي غړي پر دوو برخو وېشل شوي وو.

لومړۍ ډلي(سيکولرو شيعه ګانو) غوښتل چي دا تنظيم پرته له مذهبي قواعدو(اثنی عشری) اداره کړي او نه د ي د لبنان د باندي له کومو ديني اړخونو سره اړيکي ساتي، چي د دې ډلي مشري(نبيه بري) کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دوهمي ډلي(ایران پلوه شیعه ګانو) غوښتل همغه د موسی صدر تګلاره باید جاري وساتل شي، او یو شیعي حکومت رامنځته کړای شي، دوی غوښتل چې د امل نظامي څانګه دي له ایراني انقلاب سره نښتې وي، خو د دوی مشکل دا وو چې دوی مشر نه درلودو.

ایراني حکومت هم د دوهم موقف حامي وو، هغوی یوازي د موسی صدر نه پوزي ته راغلي ول، د صدر د تری تم (ترور) کېدلو وروسته د دوی مشکل حل شوی وو نو ځکه ئې حسن نصرالله ته فرصت او چانس برابر کړ چې د حزب الله واک منحصر کړي، نصر الله تر موسی صدر ایران ته ډېر وفادار پاته شو. وخت ثابته کړه چې ا یران په لبنان کي خپل سازشونه تر یو حده بریا ته نږدې کړل.

اوس د حسن نصر الله په فتوی د ورځې په لسګونو شیعي ځوانان په سوریه او یمن کي جنګېږي او وژل کېږي، دی او خامنه ای په ګډه د خمیني سازشي پلان تطبیق کوي، د دوی ستر اهداف دا دي چې څنګه عرب هیوادو نه نا امنه کړي او بیا هلته وړوکي شیعي اقلیتونه د نظام سر ته پورته کړي، ایران نن په سیمه کي د یوه بدکرد ار همسایه رول لوبوي، د افغانستان، پاکستان، عراق او یمن شیعي اقلیتونو نه د پیسو او ایراني تابعیت په لالچ کي ځوانان د جګړو لپاره روزي، د فاطمیون ګوند تر شعار لاندي د دوی په زرګونو اجیر ځواکونه په سور یې او یمن کي جنګیږي، د ځینو ایراني لیکوالانو دا جمله چې "جنګ قادسیه هنوز هم ادامه دارد" د حال په ژبه ډېر څه بیانوي.

**وما علینا الا البلاغ**

۲۵-ډسمبر-۲۰۱۶م

(c) ketabton.com: The Digital Library


















**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**